IBO IB DIPLOMA PROGRAMME
PROGRAMME DU DIPLÔME DU BI
PROGRAMA DEL DIPLOMA DEL BI

M06/1/A1PAS/SP1/PUS/TZ0/XX

22060219

**PASHTO A1 – STANDARD LEVEL – PAPER 1**
**PACHTO A1 – NIVEAU MOYEN – ÉPREUVE 1**
**PASHTU A1 – NIVEL MEDIO – PRUEBA 1**

Monday 22 May 2006 (morning)
Lundi 22 mai 2006 (matin)
Lunes 22 de mayo de 2006 (mañana)

1 hour 30 minutes / 1 heure 30 minutes / 1 hora 30 minutos

---

INSTRUCTIONS TO CANDIDATES

- Do not open this examination paper until instructed to do so.
- Write a commentary on one passage only. It is not compulsory for you to respond directly to the guiding questions provided. However, you may use them if you wish.

INSTRUCTIONS DESTINÉES AUX CANDIDATS

- N'ouvrez pas cette épreuve avant d'y être autorisé(e).
- Rédigez un commentaire sur un seul des passages. Le commentaire ne doit pas nécessairement répondre aux questions d'orientation fournies. Vous pouvez toutefois les utiliser si vous le désirez.

INSTRUCCIONES PARA LOS ALUMNOS

- No abra esta prueba hasta que se lo autoricen.
- Escriba un comentario sobre un solo fragmento. No es obligatorio responder directamente a las preguntas que se ofrecen a modo de guía. Sin embargo, puede usarlas si lo desea.

د لاندي دوو متنونو څخه چې يو نظم او بل نثر دئ پر يوه يې تبصره وکړئ

۱– الف (نظم)

## د عشق قدرت

په ښايست زما د يار نه دی خبر څوک          که خبر شي پرې به نږدې دغه درڅوک
د دنيا چارې همدا واړه فاني دي          تر وناحقه خاورې لوني په خپل سرڅوک
چې قبول شي په درگاه د مهرويانو          د هغه په څېر به نه وي بختور څوک
که زما د يار په مخ د چا نظر شي          و به نه کاندي بل خواوته نظر څوک
د ديدن طاقت يې هيچا څخه نشته          و آفتاب ته کتی نه شی برابر څوک
که هرڅو دلبران ډېر دی په جهان کی          بل به نه وی زما يار غوندې دلبر څوک
عاشقي يوه پايه ده عجايبه          دغه کار کولی نه شی هم هر هر څوک
له هجرانه بله سخته بلا نشته          خدای دی نه کاندي زخمي په دانشترڅوک
مخ به بل خواته هرگز ونه جار باسي          چې شي ستا په خمارو سترگو ابتر څوک
و به نه رسېږي تا ته په آسانه          ستاپه غم چې خاورې نه کاندي په سرڅوک
ارمانونه به کوی زار زار به ژاړی          چې حاصله گونټه نه کا په شش در څوک
همره نوم د عاشقۍ وربانده مه ږده          چې د يار په غم کې نه شي قلندر څوک

هغه نه کاندي نظر وسيمو زر ته        چې په لور د خپل آشنا کاندی نظر ځوك
يه گلونو د گلزار به ميل نه کاندی        چې خوبونه کا د يار په خاکستر ځوك
بې رهبره يون د عشق په لاره گران دی        دلته بويه چې پيدا کاندی رهبر ځوك
نې بېلتون په سترگو وينی آشنايی کا        د رحمان په څېر به وی بې هنر ځوك

(د رحمن بابا د دېوان څخه)

رهنما سوالونه:
ضروری نه ده چې دې پوښتنو ته مستقيم ځواب وواياست

- غور وکړی، چې آيا ددې نظم لپاره ورکول شوی عنوان مناسب دی؟
- په دې نظم کې د محبوب په هکله خبری څه ډول زمونږ پر خيالاتو اثر کوی؟
- د شاعر د تخيل او الفاظو د انتخاب د مؤثروالي په هکله تبصره وکړی.
- په دې شعر کې شاعر څه ډول د لوستونکو توجه جلب کړې ده؟

۱- ب (نثر)

## حکایت (قصه)

د کم عقل سړي دوستي له دښمنۍ سره برابره وي:

لکه یوه پادشاه یو شاهین د ښکار د پاره ساتلی و او ډېر فهم به یې وربانلدی کاوه. ناګهانه یوه ورځ والوت او د یوې بوډۍ په کور کې ولګېده.

بوډۍ زر لاس وروا چاوه شاهین یې ونیوه، چې ورته یې وکتل نو منښوکه یې ورته کږه ښکاره شوله. نو بوډۍ وویل چې هې هې عاجز په دې منښوکه باندی به څنګه خوراك کوی. جوړ چاړه یې راواخیستله پاسنۍ منښوکه خو یې ورنه پرې کړله. چې کښته او پورته منښوکه ورته یو شان برابره کړله نو ویې ویل چې وشوه، اوس به پرې دانې اخیستلای شي.

چې پښو ته یې ورته نظر وکړلو دواړه منګلي یې ورته ښکاره شولې. ویې ویل چې ای غریب ستا له نصیب دومره څوك نه وو چې ستا نوکونه یې پرې کړی وای ته خو په پښو شل یې ددې نوکونو له سببه. نو زر زر یې نوکونه هم ورنه وتراشل. دې غریبی خود مینه کوله او د هغه عاجز یې بېخ وکېښښ.

پادشاه خبر شو چې شاهین الوتلی دی نو حکم یې وکړ چې که چا راوست انعام به ورکړم.

چې خلقو لټاوه د بوډۍ کره یې وموند. جوړ پادشاه له یې بوت او حال یې د بوډۍ د مینې او مدار ورته بیان کړ. چې پادشاه شاهین ته وکتل ډېر خپه شه ولی نور یې هیڅ و

**نه ويل مگر حکم يې وکړ چې دی بهر وباسی او ډنډوره وگرزوی چې دا به يې حال وي چې څوك په هغه چا پېښېږی چې په قدر يې نه پوهېږی.**

**(له " گنج پښتو" څخه)**

رهنما سوالونه:

ضروری نه ده چې لاندی پوښتنو ته مستقيم ځواب ووايا ست.

- په پورتنۍ قصه کې لوستونکو ته د ليکوال پيغام څه دی؟
- پدې قصه کې څرنگه د ژبې په زړه پوری سبکی ځانگرتياوی استعمال شوی دی؟ څنگه، پوهېدل يې آسان دی؟
- د قصې جوړښت ددې د موضوع او مضمون په څرگنده تشريح کولو کې څرنگه مرسته کړې ده؟